# دا د مرګ قاصد وشوې مودې چې دلته ځي راځي

اقبال حسين افکار

زما د مور بي بي د فاتحې په دوېمه ورځ په لس نيمې بجې د سلطان محمد صابر له خوا ټيليفون راغے. ما چې د موبائيل فون په سکرين د صابر صيب نوم وليد ما ووئيل د مور د وفات نه مې خبر شوے دے. دا د ۲۵ جون ۲۰۰۸ او د شورو ورځ وه. ولې ما چې د موبائيل سوېچ آن کړو نو هغۀ ووئيل افکار صيب زۀ خو ډېر بدحاله شوے يم اوس واش روم ته هم د نورو په تکيه ځم. بابر صيب (فرحت الله بابر) ته مې ټيليفون ورکړے دے. زۀ هسپتال ته ځم تۀ هم راشه. ما ووئيل صابر صيب الله تعالٰي دې تا له روغه سته درکړي، دې قوم ته ستا په شان د خلقو ضرورت دے، ولې زۀ خو په مردان کښې يم د مور د وفات مې دوېمه ورځ ده.

او بس غالباً په سبا د خپل کشر ورور له خلې خبر شوم چې ښاغلے سنګين ولي خان هم وفات شو. په دې خبر اورېدو مې هم د زړۀ ځخه د درد يو ځړيکه پورته شوه. ولې چې سنګين ولي خان د فخر افغان باچاخان نمسے د خان عبدالولي خان زوئے د غني خان او علي خان ورارۀ او د پښتنو د نن د قافلې د سالار ښاغلي اسفنديار ولي خان کشر ورور ؤ او د محترمې او قدرمنې بي بي بېګم نسيم ولي خان د سترګو تور او د زړۀ ټکور ؤ. د دې کورنۍ



وړوکي نه وړوکے او د لوئے نه لوئے غم د لر او بر شمال او جنوب د پښتنو غم وي. ولې چې د دې کورنۍ په پښتنو لوئے احسان دے.

په ۲٦ جون ۲۰۰۸ هم په هغه وخت په کوم وخت چې محترم صابر صيب چې په موبائيل فون په هسپتال کښې داخلېدو خبر راکړے ؤ. هم په هغه وخت د هغۀ نمسي ښاغلي جعفر خان لوئے غم ځخه ډک دا خبر راکړو چې "بابا وفات شو". د دې وروستو د اې وي ټي خيبر خاورې داؤد جان په

موبائيل غم رازي وکړه او د صابر صېب په بابله ئې ضروري معلومات له ما واخستل او د سترګو رپ کښې په دنيا دا خبر خور شو چې د پښتو ژبې نوميالے شاعر اديب او د پښتو صحافت لوئے نوم سلطان محمد صابر وفات شو. وروسته محترم م. ر شفق صېب د غمرازئ فون راغلو. شايد هغه د محترم صابر صېب سره زمونږ د تعلق نه خبر ؤ. هسې خو د محترم صابر صېب سره زمونږ تعلق او پېژندګلو هغه وخت وشوه کله چې هغه په کال **1983** کښې د کوئټې څخه پېښور ته راغلو او د دلته نه ئې اووۀ ورځنے "هېواد" اجراء کړو. په اسلام اباد کښې به هغه ما او د ملګري غني خټک په باذوقه پښتنو ته رسولو. ورکښې ليکل به هم چاپېدل او چې کله به پېښور ته لاړو نو د هېواد دفتر ته به ضرور تلو، ولې چې هلته به د قلندر مومند صېب، همېش خليل صېب، صديق پسرلے صېب، حبيب الله رفيع صېب، استاد محمد اصف صميم صېب، تاج امر، محب الله شوق، مجيد الله خليل او نور ګڼ شمېر مشران همځولو او کشرانو سره به ليدۀ کاتۀ کېدل. چونکې دغو ورځو کښې د افغانستان ستونزه ښۀ ګرمه وه نو دغلته به د زړې نوې نه هم خبرېدو. شايد پښتنو بدخواهانو ته دا منظوره نۀ وه نو د هېواد سر ئې خور کړو.

په بله ورځ محترم شفق صېب اطلاع راکړه چې محترم اياز داودزي هم تېره کړه، بېګا د شپې وفات شوے دے. سحر ئې زۀ کور ته ورغلم خو هغه ئې کلي ته وړے دے. د جنازې وخت ئې معلوم نۀ دے خو زۀ اوس پېښور ته ځم. وروسته ښاغلي عبدالهادي حېران زنګ راکړو، ووئيل څۀ نوے خبر شته ما ووئيل زما مور بي بي وفات شوه، وروسته سنګين ولي خان وفات شو په ۲۶ جون سلطان محمد صابر صېب وفات شو او دا دے نن د شفق صېب د خلې خبر شوم چې بېګا اياز داودزے صېب وفات شو خو د جنازې وخت ئې نۀ هغه ته معلوم دے او نۀ ماته، تۀ هڅه وکړه چې په پېښور کښې د چا نه د جنازې وخت معلوم کړې چې د "ادبي هڅې" د مصنف جنازې له خو لاړ شو خو کاش چې هغه د پوره هڅو نه وروستو د ادبي هڅې د مصنف اياز داودزي صېب د جنازې وخت معلوم نۀ کړے شو. شايد ځکه چې پښتانۀ د اخبار، مجلې او کتاب سره مينه نۀ لري او نۀ په ټي وي چېنلو په معلوماتي پروګرامونو، تجزيو، تبصرو او نيوز کښې دلچسپي لري.

نن د جولائي ۲۰۰۸ اوومه (۷) نېټه ده چې د خاطر غزنوي د وفات خبر راغے اووۀ بجې ماښام به ئې جنازه وي.

دا د مرګ قاصد وشوې مودې چې دلته ځي راځي
يو نه يو د مرګ خبر د ځان سره راوړي راځي

ماښام هم په دغه ورځ د اکادمي ادبيات پاکستان په رائيټر هاؤس کښې د محترم عبدالجبار حامد صېب په صدارت کښې تعزيتي ريفرنس د پښتو ادبي سوسائټي اسلام اباد له خوا منعقد شوے ؤ خو مينه وال ورته دومره نۀ وو راغلي چې خومره پکار وو. شايد ځکه چې نۀ خو دا ميوزيکل شو وه او نۀ "اجتماع" قلندر مومند صېب په ځائے وئيلي دي:

د پښتون د نوي کُول دې خدائے حافظ شي
هره ورځ چې تړې نه دا سې مشران مري